# د اسلامي نظام په ټينګښت کې د رسنيو ونډه

(د علمي-څېړنيز سيمينار د مقالو ټولګه)

۱۴۰۳ هـ.ش




د اسلامي نظام په ټينګښت کې د رسنيو ونډه

۱۴۰۳ هـ.ش

# The Role Of The Media In Strengthening The Islamic Governance

2025

ISBN 978-9936-661-61-5

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د علومو اکاډمي**

**د بشري علومو معاونيت**

**د ټولنیزو علومو  مرکز**

# «د اسلامي نظام په ټینګښت کې د رسنیو ونډه»

**(د علمي – څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه)**

**مهتمم:** څېړندوی عبدالرحمن الکوزی

**کتنپلاوی:**

- څېړنپوه شیرعلي تزري
- څېړنپوه سید حبیب شاکر
- څېړنوال محمد داود ناظم
- څېړنپوه محمد نبي صلاحي
- څېړنوال رحیم الله حریفال
- څېړندوی عمران ذکریا
- څېړندوی عالم جان ژمن

**ځانګړنې:**


**اډیټور او مهتمم:** څېړندوی عبدالرحمن الکوزی

**د سیمینار کال:** ۱۴۰۳هـ.ش

**د چاپ کال:** ۱۴۰۴ل / ۱۴۴۷ هـ ق

**د چاپ ځای:** ستارهٔ همت مطبعه، کابل - افغانستان

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**آدرس:** د افغانستان علومو اکاډمي، شاه بوبوجان کوڅه ، شهرنو، کابل

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د اړیکې شمیره : ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)**

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست ایمیل:** info@asa.gov.af

ISBN : ۹۷۸-۹۹۳۶-٦٦۱-٦۱-۵



**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمدلله رب العالمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.**

# لیکلړ


د افغانستان د علومو اکاډمۍ د رئیس پیغام........................................ ۱
«د اسلامي نظام په ټینګښت کې د رسنیو ونډه» تر عنوان لاندې علمي... ............... ۷
رسنۍ او د اسلامي نظام په ټینګښت کې یې ونډه ........................................ ۹
نقش رسانه ها در انعکاس دستاورد های نظام اسلامی ........................................ ۲۸
د اسلامي نظام په ټینګښت کې د بیان آزادۍ رول........................................ ۵۰
نقش رسانه در توجیه افکار عامه جوامع پسامنازعه به سمت صلح مثبت................ ۷۵
د نظام او رسنیو تر منځ د همغږۍ د پیاوړتیا لارې چارې ................................ ۱۰٤
تحلیل مفهومی نقش رسانه‌ها در جلوگیری درگیری‌ها از منظر ... ................... ۱۲٤
د اولس او نظام ترمینځ د تفاهم سطحې په لوړاوي کې د رسنیو رول................ ۱٤۵
سیاست خارجی و دیپلماسی رسانه‌یی........................................ ۱۵۷
ملي یووالی او رسنۍ........................................ ۱۸۸
د هېواد په سیاسي ثبات کې د رسنیو رول ........................................ ۲۰۸
سهم رسانه ها در تنویر و انسجام افکار عامه ........................................ ۲۲۷
د اسلامي او افغاني فرهنګ په ترویج او ساتنه کې د رسنیو ونډه.................... ۲٤۳
نقش رسانه‌ها در تحکیم همبستگی اجتماعی و وحدت ملی ................................ ۲۵۲
نقش رسانه ها در شناسایی کاستی ها و رفع آن........................................ ۲۸٦
د اسلام له نظره د بیان آزادي، ارزښت، او د نظام په ټینګښت یې اغیز ............... ۳۱۰
«د اسلامي نظام په ټینګښت کې د رسنیو ونډه»........................................ ۳۳۲
پریکړه لیک ........................................ ۳۳۲

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**قال الله سبحانه و تعالی (ٱلَّذِينَ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقَوۡلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحۡسَنَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٨)(الزمر:١٨)** وقال رسول الله صلی الله عليه وسلم: «**بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً**»(متفق عليه)

«د اسلامي نظام په ټينګښت کې د رسنيو ونډه» تر عنوان لاندې علمي-څېړنيز سيمينار د ارتباطاتو او ژورناليزم انسټيټوټ د ۱۴۰۳ل کال د حمل د مياشتې په ۴ نېټه په لومړۍ شمېره علمي مجلس کې غوره شوی او سلسلتا د پوهنيزو علومو په مرکز، بشري علومو معاونيت او بالآخره د افغانستان د علومو اکاډمۍ د مشرتابه په ځانګړې پاملرنې د ۱۴۰۳ کال د ثور د مياشتې په ۴ نېټه علمي مجلس کې تأييد او په ۱۴۰۳/۹/۲۸هـ.ل. نېټه د علومو اکاډمۍ د علامه کهزاد په تالار کې جوړ شو.

د رسنيو قوت او د اغېزو واقعيت يې په بشري ټولنه کې ثابت شوی، نو د رسنيو له همدې قوت او اغېزو څخه د لا ښې استفادې لپاره ياد علمي-څېړنيز سيمينار، په دې موخه جوړ شوی چې په پوره هوډ سره غواړو د اسلامي نظام د استحکام، له خلکو سره يې د همغږۍ، له نړۍ سره يې د لا ښه تفاهم او د معلوماتي قدرت د حصول او خپراوي په لار کې پياوړې رسنۍ په خپل هېواد کې ولرو او دې پوښتنو ته واقعي او عملي ځوابونه پيدا کړو چې له رسنيو څخه د لوړو اهدافو په تحقق کې څرنګه معياري او مسلکي استفاده وکړی شو؟ څرنګه کولی شو چې په اسلامي نظام کې د بيان آزادۍ ته احترام، بشري ټولنې ته د ښېګڼې په توګه وړاندې کړو او خپله ټولنه د معلوماتو او اطلاعاتو په دې اغېزناکې ګنجينې وياړمنه، پرمختللې او د خپلو خلکو ظرفيتونه پرې لوړ کړو؟ څرنګه کولی شو چې د اسلامي دعوت په خپرولو، امر بالمعروف او نهي عن المنکر په برخه کې د منبر تر څنګ له اوسنيو رسنيو او عصري ارتباطي ټکنالوژۍ څخه هم د اسلامي ارشاداتو، افغاني فرهنګ او عصري علومو په رڼا کې ښه استفاده وکړو؟ دا او دې ته ورته نورې پوښتنې شته چې د دې سيمينار د علمي-څېړنيزو مقالو په ترڅ کې به ورته واقعي او عملي ځوابونه او په دې برخه کې د شته ستونزو حل لارې وپلټل شي.

د دغه سیمینار د جوړولو لپاره د افغانستان د علومو اکاډمۍ د بشري علومو د معاون سرمحقق دکتور محمد علم اسحق زي په مشرۍ، د ټولنیزو علومو د مرکز د رئیس څېړنپوه شیرعلي تزري په لارښوونه او د ارتباطاتو او ژورنالیزم انسټیټوټ په زیار، ګڼ شمېر غونډې شوي، علمي او تدارکاتي کمیسیونونو خپلې دندې په خپل وخت سرته رسولي. د یاد سیمینار په عنوان ۱۹ مقالې را استول شوې وې چې د علمي کمیسیون له لوري ۱۵ مقالې له علمي–څېړنیزو معیارونو سره برابرې منل شوي، شپږ مقالې یې په سیمینار کې لوستل شوي او دا دی د څېړندوی عبدالرحمن الکوزي په زیار او اهتمام د ټولو منل شوو علمي-څېړنیزو مقالو د چاپ شاهدان یو. له ټولو هغو څخه چې د دې سیمینار په بریالیتوب کې یې زیار ایستلی یوه نړۍ مننه.

په دې هیله چې د دغه علمي-څېړنیز سیمینار عالمانه پیغامونه او علمي-څېړنیزې مقالې د اسلامي نظام د لا استحکام، له نړۍ او خپلو خلکو سره یې د لا ښه تفاهم، یو د بل د ملاتړ او پرمختګونو سبب شي.

**«وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِين»**

په درناوي

د ارتباطاتو او ژونالیزم انسټیټوټ آمر

څېړنوال محمد داود ناظم

## د افغانستان د علومو اکاډمۍ د رئیس پیغام

الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی رسوله الکریم وعلی آله وأصحابه أجمعین. امابعد؛ فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم.

قال الله سبحانه تعالی:

**(لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا)** (الأحزاب:۲۱) و ایضاً قال تعالی: **(وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ)** (الحشر:۷) و هکذا قال الله تعالی: **(وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا)** (الأحزاب:۷۱) و قال الله تعالی: **(قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ)** (آل عمران:۳۱)

وقال رسول اللهﷺ: «**لا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ**»

محترمو! حضار کرامو، علمای کرامو، پوهانو، سرمحققانو، محققینو، علمي کادرونو او ټولو قدرمنو حاضرینو السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته؛ اللهﷻ دې ستا سو راتگ په میزان د حسناتو کې حساب کړي. د ټولې اکاډمۍ په نماینده گۍ تاسو ته ښه راغلاست وایم.

ددې مجلس عنوان تاسو ټولو ته معلوم دی چې په اړه یې دې سوال ته ځواب پیداکول دي چې: د اسلامي نظام په ټینگښت کې رسنۍ څه ونډه لري؟

رسنۍ خو دغه موجوده آلې لکه رادیو، تلویزونونه او مجلې دي هم گټې لري او هم تاوانونه، خو دا په هغو پورې تړلي دي چې څوک یې چلوي چې دا مفیدې هم کیدلای شي او مضرې هم. دا د اسلامي نظام د ټینگښت او د نظام د سستۍ سبب کیدلای شي، لکه د چاقو مثال لري چې گټورې چارې هم پرې ترسره کېدلای شي او برعکس ناوړه گټه هم ترې اخیستل کېدای شي.

د افغانستان په تاریخ کې په ۱۳۴۹ هـ ق کې همدا رسنۍ وې چې علمای

کرام یې راوپارول، ځکه د پرچم په نوم یوې رسنۍ کې داسې یو مضمون چې پیغمبرﷺ ته توهین په‌کې شوی و، خپور شو. له همدې امله په کابل او ولایتونو کې مظاهرې وشوې. بیا همدا رسنۍ وې چې علماوو سره یې دا فکر پیدا کړ چې دا خبرې په مظاهرو نه حل کیږي، ځکه مظاهرې د حکومت له لوري وپاشل شوې او د علماوو توهین وشو. د ظاهر شاه په ۴۰ کلنه ارامه دوره کې ان له خلکو او علماوو د ټوپک چل هېر شوی و، خو له دې وروسته ورسره دا فکر پیدا شو چې د دغو چارو د مخنیوي لپاره مسلح قیام ته اړتیا شته. په دغه وخت کې داود خان د کمونستانو په ملاتړ کودتا وکړه هغه هم له تشدد څخه کار واخیست، خو کله چې پښېمانه او خپلو چارو ته متوجه شو، نو کمونستانو پرې کودتا وکړه او همدغه حالات د رسنیو تحفه وه چې موږ ته یې راکړه. بیا چې کله موږ مجاهدینو کابل ونیو، نو دا حقیقت مو ترلاسه کړ چې د پخواني شوروي اتحاد د رسنیو خپرونې او پروگرامونه دلته په پښتو او فارسی باندې اړول شوې وې او د خلکو اذهان یې پرې خرابول، رنگارنگ داستانونه اوخرافات وو، د لینن فسلفه، منتخبات لینن او دغسې نورې دا ټولې رسنۍ وې چې د خلکو د اذهانو د اغواء کولو لپاره یې ا ستعمالولې چې دا اذهان دا سې کړي چې په لینن درود ووایي، د لینن احترام وکړي او کمونستي قانون دلته راشي. ببرک کارمل، نجیب او دغسې نورو ملگرو یې غوښتل چې افغانستان د جماهیر شوروي یو غړی هېواد شي، خو خلکو د اللهﷻ په مرسته اجازه ورنکړه؛ نو دا درسنیو اغېز دی. کله چې امریکایي اشغال راغی، نو دلته هم رسنیو قسماقسم رول ولوباوه، ځینو کوشش کاوه چې امریکایي کلتور دلته دود کړي چې د دې کار لپاره یې رنگارنگ تبلیغات کول، د ټولنې پخواني او لرغوني دودونه یې په شاتگ باله، که به چا ورته د سلطان محمود غزنوي، میرویس نیکه او احمدشاه بابا یادونه کول چې هغه وخت کې موږ مترقي افغانستان درلود، نو دوی به دا شاتگ بوله. ډېرو رسنیو دا کارکاوه چې موږ باید د اروپا او امریکا کلتور خپل کړو او د هغوی په

ځېر دیموکراسي رامنځته کړو، نو داسې رسنۍ د اسلامي نظام په ټینګښت کې هېڅ رول نه لري.

هغه خبریالان، رسنۍ او هغه کسان چې هدف ته متوجه وي، واقعا مسلمان او په دې خلکو دردمن وي د هغه هره نوشته او هره پاڼه موږ په سترګو ږدو، هغوی بیا خپل فکر په خپلو اوراقو او رسنیو کې داسې انعکاسوي، چې فخر پرې باندې کیږي. په تېره شل کلنه دوره کې د ځرک، شهامت، مورچل مجلې او یوه رادیو وه چې په یو دوه ولایتونو کې یې کار کاوه، دوی په ډېرې ایمانداری خپرونې کولې، زه خپله ترې دومره متاثر وم چې ټولې به مې تعقیبولې، ډېر ښه مطالب په کې خپرېدل. دغه رسنۍ وې چې زموږ فکر یې هم روښانولو او حتی امریکا او کفارو په دې اعتراف کاوه چې په دې برخه کې طالبانو له موږ میدان وړی دی.

په اوس حالت کې هم که رسنۍ په ایمانداری سره خپلې دندې په سمه او معیاري توګه ترسره کړي، نو یقینا نظام ته ډېره ګټه رسولای شي، خو له کفارو څخه متأثرې او مرعوبې خپرونې دې نه کوي چې مرعوب انسان نظام ته ګټه نه شي رسولای.

موږ په افغانستان کې د سوچه اسلامي نظام د راوستلو په غرض دا ملت جنګولی، په دغه نیت زموږ په افغانستان کې دوه نیم میلیونه خلک په تېرو ۴۵ کلونو کې په شهادت ورسېدل.

نو رسنۍ باید دې ته متوجه شي چې دغه ستر آرمانونه او خپلې دندې په ایمانداری ترسره کړي، رسنیز فعالان خپل ظاهر او باطن د الله ﷻ په دین برابر او متقي انسانان جوړ کړي؛ نو دده اثر به په رسنۍ او خپرونو کې موجود وي، دا سې ر سنۍ او خبریالان بیا ا سلامي نظام ته ګټه ر سوي او د ا سلامي نظام د فخر وړ وي؛ خو که یو کس په ځان مسلط نه وي، نو اول باید په خپل ځان کې اصلاح راولي او په اسلام ځان برابر کړي، بیا به په رسنیو کې د نور امت په زړه

کار شروع کړي. د اسلام اصلي روح باید په رسنیو کې موجود وي او د هغه لپاره د رسنیو له لارې په پوره ربتینولۍ، دقت او امانتدارۍ سره کار وکړي.

په درناوي

**شیخ الحدیث مولوي فریدالدین محمود**

**د علومو اکاډمي لوی رئیس**

بسم الله الرحمن الرحيم

# «د اسلامي نظام په ټينګښت کې د رسنيو ونډه» تر عنوان لاندې علمي-څېړنيز سيمينار ته د افغانستان د اسلامي امارت پيغام!

الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام على رسوله الكريم وعلى آله و اصحابه اجمعين.

اما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: **ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ** (١٢٥) سورت النحل. صدق الله العظيم

رسنۍ په اوسني عصر کې د خبر رسولو، ابلاغ، عامه پوهاوي او دعوت تر ټولو مهمه وسيله ګڼل کيږي. له همدې امله د ژوند د نورو برخو ترڅنګ د حکومتدارۍ په برخه کې هم د رسنيو اهميت خورا روښانه دی.

رسنۍ يا مطبوعات چې د خپل ځانګړي اهميت له امله د حکومتدارۍ يوه قوه ګڼل کيږي، نه يوازې له ورځنيو پېښو د خلکو د خبرولو له اړخه بلکې د اذهانو د تنوير، اسلامي دعوت، تعليم، فرهنګي مبارزې، د خلکو د معلوماتو د سطحې لوړولو او د دښمن د تبليغاتي او رواني جنګ څخه د ولس د ژغورنې له اړخه هم اهميت لري.

لکه څنګه چې الله تعالى موږ ته د ا سلام د د ښمنانو پر وړاندې د هر ډول قوتونو د برابرولو امر کوي او فرمايي: «**وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ**» نو په دې خاطر چې رسنۍ په اوس وخت کې د فرهنګي او رواني جنګ وسيلې دي او د يو نظام د استحکام مهم عامل ګڼل کيږي، اړينه ده چې د الله متعال د دې امر د پر ځای کولو په خاطر زموږ او تاسو ټولنه په دې برخه کې ښه غښتلې او پياوړې وي.

په دې سربېره رسنۍ د اسلامي دعوت، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په لاره کې اغېزناکې وسيلې دي چې بايد د دې اهدافو د تحقق په لاره کې داسې په لوړو اسلامي، فرهنګي او مسلکي معيارونو برابرې او په لوړ حکمت سره وکارول شي لکه څنګه چې له منبر څخه د دې مبارک آيت په مصداق ګټه اخيستل کيږي چې :

«**ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ**». يعنې د خپل رب لارې ته په حکمت او ښې موعظې سره خلک راوبوله. چې دغه اهداف هم په اوسني عصر کې د رسنيو له لارې په ډېر وسيع، چټک او اغېزناک نظم متحقق کېدلی شي.

بناء رســنۍ چې د اســلامي شريعت، افغاني فرهنګ او ملي ګټو په رعايت سره خپل پيغامونه او پروګرامونه د مسلکي معيارونو په چوکاټ کې خپاره کړي، بې له شکه چې د ټولنې د علمي، فرهنګي، سياسي، پوځي، اقتصادي او داسې نورو په پرمختګ باندې مثبتې اغېزې لري چې دغه ټول د اســلامي نظام په ټينګښــت کې رغنده رول لوبوي.

رسنۍ زموږ د هېواد ستره پانګه ده چې بايد د اسلامي شريعت په چوکاټ کې لا وده ورکړل شي او په دې برخه کې په ديني او عصري زده کړو سنبال داسې مسلکي کادرونه وروزل شي چې د اسلام شريعت، وطن او مؤمن ولس ګټو ته ژمنتيا ولري.

موږ د افغانستان اسلامي امارت د علومو اکاډمۍ د بشري علومو د معاونيت دغه هڅه چې« د اســلامي نظام په ټينګښــت کې د رســنيو ونډه» تر عنوان لاندې علمي- څېړنيز سيمينار يې جوړ کړی د رسنيو، نظام او خلکو ترمنځ د لا ښې همغږۍ او يو د بل د اړتياوو او حقيقتونو د ښــه درک او تفاهم په لاره کې يو د قدر وړ مثبت ګام بولو.
له الله متعال څخه ټولو ته په هر نېک کار کې توفيق او اجرونه غواړو او هيله من يو چې په دې ســيمينار کې به د علماوو، پوهانو، اســتادانو او متخصــصــينو له لوري د رسنيو، خلکو او نظام ترمنځ د لا ښې همغږۍ او يو د بل د ملاتړ لپاره مناسبې، علمي او عملي طرحې او وړانديزونه ارائه او د تطبيق لپاره وړاندې شي.

په درناوي

**د افغانستان د اسلامي امارت رئيس الوزراء**

**ملا محمد حسن آخوند**